NJ FAMILYCARE روغتيايي پلانونه
Affordable health coverage. Quality care.

| **HMO** د کاونټۍ په سر پلانونه | اټلانټيک | برګين | برلينګټن | کيمډين | کيپ مې | کمبرلنډ | ايسيکس | ګلوسيسټر | هډسن | هنټرډان | مرسر | ميډل سيکس | من ماوت | موريس | اوشين | پسيک | سليم | سمرسيټ | سه سيکس | يونين | وارين |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د نيوجرسي Aetna Better Health® (ایټنا غوره روغتيا) | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ |
| Fidelis Care (فيډيلس پاملرنه) | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ |
| Horizon NJ Health (هورايزن NJ روغتيا) | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ |
| UnitedHealthcare Community Plan (د UnitedHealthcare ټولنيز پلان) | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ |
| ويل پواينټ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ |

aetna
Aetna Better Health® of New Jersey

په ټولو کاونټيانو کې ترلاسه دي

## د نيوجرسي Aetna Better Health® (ایټنا غوره روغتيا) (7/24) 711 TTY • 1-855-232-3596 www.aetnabetterhealth.com/nj

**د Aetna Better Health (ایټنا غوره روغتيا) څخه لا نور څه ترلاسه کړئ**
*ګټې، انعامونه، او د پلان ګټې چې تاسو نه غواړئ له لاسه يې ورکړئ*

- لوړو، ځايي چمتو کوونکو ته لاسرسی وکړئ - هيڅ مراجعو ته اړتيا نشته
- د غاښونو او د ليد هراړخيزه پاملرنه
- د روغتيا ازمويني،
- زيږون پالنه* (د پاملرنې سمبالونه، دولا خدمتونه، د مور د شيدو تجهيزات او ملاتړ)، او
- د درملتون خدمتونه.*

*Co-pays کېدی شي د NJ FamilyCare د ځينې غړو غوښتنه وکړي*

**Dental Home Program (د غاښونو کوره پروګرام) د ټولې کورنۍ لپاره**
مونږ اوس يو پروګرام لرو څو ډاډ ترلاسه کړو چې تاسو او ستاسو کورنۍ د لومړۍ پاملرنې د غاښونو ډاکټر (PCD) او د غاښونو د درملنې يو کور ولرئ، چې د هر عمر خلکو ته ترلاسه وي.

**ستاسو ګاونډي ښه روغتيا لرونکی**
په لاندې ورکړل شويو کې د مرستې لپاره په نيوآرک، نيوجرسي کې په HealthCare Central کې زمونږ سره ووينئ:

- د NJ FamilyCare لپاره نوم ليکل
- چمتو کوونکی موندل
- د NJ FamilyCare د نوي کولو په پروسه پوهېدل

- د خپلو Aetna Better Health په ګټو پوهېدل
هره مياشت مونږ د صحتمند خوړو د وېشاني او د وړيا جامو وينځلو ورځې کوربه توب کوو!

**د روغتيايي لارښووني لپاره د 7/24 نرس ليکې ته لاسرسی**
1-855-232-3596 (711:TTY) ته زنګ ووهئ او 4 وزورئ. نرسان تل مرستې کولو ته چمتو وي.

**د روغتيا لپاره انعامونه وګټئ**
زمونږ د هڅوني پروګرام غړو ته د وړ روغتيايي ازموينو بشپړولو لپاره انعامونه ورکوي لکه:

- **د روغ ماشوم ليدني** (عمرونه 3-21)
- **ميموګرام** - د سينې د سرطان ازموينه (هر کال د 40-74 کلنۍ څخه) او د بچې داني د سرطان ازموينه (پيپ ازموينه) (چې د 20 کلنۍ څخه پيليږي)
- **د سږيو ازموينه** (عمرونه 0-6)
- **د زيږون وروسته پاملرنه** (د بچې زيږولو څخه وروستو 7-84 ورځې. C-سيکشن کېدی شي دوه ليدنو ته اړتيا ولري)

د پروګرام په اړه د نورو مالوماتو لپاره Member Services (د غړو خدمتونه) ته زنګ ووهئ.
*- پروګرام د وړتيا لپاره د Aetna Better Health د يو کال لپاره غړي کېدل اړين دي.*

***کله چې روغتيا ستاسو په ذهن کې وي، نو مونږ په ذهن کې تر ټولو لومړی ساتئ.***

FIDELIS CARE®

په ټولو کاونټيانو کې شتون لري، پرته له هنټرډان څخه

## Fidelis Care (فيډيلس پاملرنه) 711 TTY • 1-888-453-2534 www.fideliscarenj.com

**لومړی تاسو ته پام کول:** په Fidelis Care (فيډيلس پاملرنه) کې، مونږ لومړی تاسو او ستاسو کورنۍ ته پام کوو. په دې مانا چې تاسو هغه پاملرنه او خدمتونه ترلاسه کړئ چې د روغ پاتې کېدو او د خوشاله ژوند تېرولو لپاره ورته اړتيا لرئ.

**مراجعو ته اړتيا نشته:** تاسو کولی شئ پرته له کومې مراجعې زمونږ په نيټ ورک کې هر يو متخصص ووينئ.

**زما د HealthPays انعامونو پروګرام:** د انعام ډالرې وګټئ، د ډالۍ د کارتونو له لارې، کله چې تاسو روغتيايي کړنې لکه دوديز کلنۍ کتنې بشپړ کړئ.

**د پلار او مور د انعامونو پروګرام:** دا پروګرام زمونږ د راتلونکو ميندو سره مرسته کوي چې د اميندوارۍ په اوږدو کې خپلې روغتيا او د ډاکټر ټولو ليدنو ته پام وکړي. هغه غړي چې دا پروګرام بشپړ کړي کولی شي يوه وړيا ډالۍ وګټي.

**د نرس د لارښووني 24-ساعتيزه ليکه:** ټول غړي کولی شي د ورځې 24 ساعته، د اونۍ 7 ورځې، د کال هره ورځ، زنګ ووهي او د راجسټر شوي نرس څخه طبي لارښوونه ترلاسه کړي.

**د ډاکټر(چمتو کوونکي) خدمتونه:**

- **PCP:** هر يو غړي ته يو چمتو کوونکی سپارل کېږي چې هغوی ته پاملرنه وړاندې کړي يا دوی لپاره د متخصص ډاکټر ليدل ترتيب کړي.
- **نسخې:** ستاسو د چمتو کوونکي له خوا د وړاندې کېدونکو درملو پوښښ.

**د غړي مرسته:**

- د ډاکټر د ګومارنې، ټولنيز خدمتونو، او نورو ترتيبولو په لړ کې شخصي مرسته.
- ټول مواد په انګليسي، هسپانوي، او د غوښتنې سره سم په نورو ژبو کې ترلاسه دي.
- د ژباړنې خدمتونه هغه غړو ته ترلاسه دي چې د اورېدو معيوبيت لري، يا د انګليسي پرته بله کومه ژبه کې خبرې کوي.

**ټولنيزې سرچينې:** زمونږ ټاکل شوي د ټولنيزې مرستې ليکه ستاسو اړيکه د ځايي، د ټولنې په کچه خدمتونو لکه خواړه، ليږد، د ماشومانو پاملرنه او داسې نورو سره نيسي.

**د پاملرنې ترتيبونه:** مونږ ماشومانو او لويانو ته د پاملرنې د ترتيبولو د پام وړ پروګرامونه وړاندې کوو. په ځينو پروګرامونو کې شامل دي:

- سابندي
- د شکرې ناروغي
- HIV/AIDS
- د لوړ خطر اميندواري

د پاملرنې مديران روزل شوي دي چې د خدمتونو (د زياتې ځانګړې پاملرنې لپاره د پاملرنې ځانګړو اسانتياو ته د مراجعو په ګډون) په ترتيبولو کې د غړو، د هغوی د کورنۍ او د هغوی د PCP's سره مرسته وکړي کومه چې کېدی شي د ناروغۍ سمبالولو لپاره اړينه وي. د روغتيايي پاملرنې پلان غوره کول يوه لويه پرېکړه ده، او مونږ غواړو چې تاسو هغه حقيقتونه ولرئ کوم چې د سم انتخاب په کولو کې ستاسو لپاره اړين دي.

پە ټولو کاونټیانو کې ترلاسە دي

## Horizon NJ Health (هورایزن NJ روغتیا) | 711 TTY • 1-800-682-9090 | www.horizonnjhealth.com

**ستاسو او ستاسو د کورنۍ روغتیا ساتل:**

د نیوجرسي د Horizon Blue Corss Blue Shield له خوا یوازینی NJ FamilyCare پلان. مونږ ستاسو د ښارګوټي روغتیايي پلان یو. د Horizon NJ Health سره هغه مرستې ترلاسه کړئ چې ستاسو کورنۍ یې په لټه کې ده.

- په نیو جرسي کې **د چمتو کوونکو تر ټولو غټو شبکو څخه یوه** — د **20,000 ډاکټرانو** څخه ډېرو نه یو غوره کړئ.
- ستاسو د غاښونو ډاکټر، د زېږون ډاکټر، د میموګرام ترتیبولو یا د سترګو دودیزې پاملرنې لپاره **مراجعې** اړینې **نه دي.**
- **د کانټیکټ لینزونو او عینکو لپاره پوښښ** د لید د نورو مرستو سره
- **د نسخې د درملو پوښښ** د هغه کسانو لپاره چې ستاسو د ډاکټر له خوا چمتو کېږي، او همدارنګه ځینې بې نسخې درمل
- **د نرس مرستندویه لیکه** ځو ستاسو طبي پوښتنو ته ځوابونه وایي او **د غړو د خدمتونو مرستندویه لیکه** چې ستاسو د پلان په اړه ستاسو پوښتنو ته ځوابونه وایي، کوم چې تاسو ته **د ورځې 24 ساعته، او په اونۍ کې اووه ورځې** ترلاسه دي

**ستاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره د روغتیايي ملاتړ اضافي پروګرامونه:**

- **د ترتیب شویو اوږدمهاله خدمتونو او ملاتړونو (MLTSS) پروګرام**
  د هغه خلکو لپاره چې روغتیا او د کور او شخصي پاملرنې په څیر د پاملرنې اوږدمهاله خدمتونو ته اړتیا لري څو په خپلو کورونو کې پاتې شي
- **Healthy Pregnancy Program (د امیندوارۍ روغتیايي پروګرام)** څو د زېږون پورې او ستاسو د ماشوم په لومړیو 60 ورځو کې ستاسو ملاتړ وکړي. د زېږون دودیزې کتنې، د پاملرنې ترتیبولو خدمتونه، د خوړو لارښوونه او د مور د شیدې خوړلو مرسته ترلاسه کړئ
- **د پاملرنې مدیران ځانګړې اړتیاوې لرونکو غړو ته ترلاسه دي** څو زمونږ د غړو د پاملرنې معیار په لوړولو کې مرسته وکړي
- **Horizon Neighbors in Health (هورایزن نیبرز این هیلت)** د ټولنې او روغتیايي سرچینو سره ستاسو اړیکه نیسي څو د ښه روغتیا په اوږدو کې ستاسو سره مرسته وکړي
- **Education Works (ېوهنیز کارونه)** کولی شي ستاسو لوړ ښوونځي ته ورته ډیپلوم ترلاسه کولو کې ستاسو سره مرسته وکړي. مونږ به تاسو ته یو دودیز پلان درکړو چې ستاسو د ژوند سره به سم وي څو د لوړ ښوونځي ډیپلوم په چمتو کولو او ترلاسه کولو کې ستاسو سره مرسته وکړي. تر ټولو غوره، دا ستاسو لپاره هیڅ لګښت نه لري.

زمونږ لپاره څه هم ستاسو د کورنۍ د ښه روغتیا څخه زیات مهم نه دي. کله چې تاسو مونږ ته خورا اړتیا لرئ نو مونږ دلته یو.

پە ټولو کاونټیانو کې ترلاسە دي

## د UnitedHealthcare Community Plan (UnitedHealthcare ټولنیز پلان) | 711 TTY/TDD • 1-800-941-4647 | www.uhccommunityplan.com

په **UnitedHealthcare Community Plan** کې، مونږ د خلکو سره په روغ ژوند کولو کې مرسته کوو. مونږ د 1989 راهیسي په NJ کې د دغه موخې ترلاسه کولو لپاره سخته خواري کړې.

**هغه مرستې چې تاسو ورته اړتیا لرئ**

- د هر غړي لپاره د لومړۍ پاملرنې ډاکټر
- د غاښونو پاکول، کتل، او د غاښونو کار
- د سترګو معاینې او عینکې یا کنټیکټ لینز
- د هر عمر ډلو لپاره د مخنیوي مناسبه پاملرنه، لکه، واکسین، ښه لیدنې، د شکرې ناروغۍ، سابندی او د زړه پاملرنه
- ستاسو د غاښونو ډاکټر، د زېږون ډاکټر، د میموګرام ترتیبولو یا د سترګو دودیزې پاملرنې لپاره مراجعې اړینې نه دي.
- د روغتیايي مالوماتو چمتو کولو او ستاسو سره د پاملرنې او خدمتونو په اداره کولو کې د مرستې لپاره د پاملرنې اداره کول

**اضافي ملاتړ چې تاسو یې غواړئ**

- **Nurse Advice Line (د نرس د لارښوونې لیکه)** – د نرس سره 7/24، هره ورځ اړیکه ونیسئ
- **Member Services (د غړو خدمتونه)** 7/24، هره ورځ ترلاسه دي
- **Healthy First Steps (روغتیايي لومړي ګامونه)** د امیندوارو غړو، نوي میندو او د هغوی د ماشومانو لپاره پروګرام
- **FIDESNP** د هغو کسانو لپاره د پلان انتخاب چې د Medicare او Medicaid پوښښ لري
- **Managed Long-Term Services & Supports (اداره شوي اوږدمهاله خدمتونه او ملاتړونه)** - د کمزورو، بوډاګانو، او معیوبو وګړو د خدمت لپاره پروګرام چې د دودیزې روغتیايي پاملرنې مرستې (د ډاکټر لیدل، په روغتون کې پاتې کېدل، لابراتورونه) او اوږدمهاله خدمتونه او ملاتړونه (په کور یا ټولنه کې د ژوند په ورځنیو کړنو کې مرسته چمتو کول) یوځای کوي

پە ټولو کاونټیانو کې ترلاسە دي

## ویل پواینټ | 711 TTY • 1-877-453-4080 | www.wellpoint.com/nj/medicaid

**Wellpoint (پخوانۍ Americgroup) د 1996 راهیسي په ویاړ سره د NJ FamilyCare د غړو خدمت کړی او مونږ په دې پوهیږو چې تاسو خپل د روغتیا پلان څخه څه غواړئ.** راځئ چې د مرستو په ترلاسه کولو کې ستاسو سره مرسته وکړو.

**هغه مرستې چې تاسو ورته اړتیا لرئ**

**مراجعو ته اړتیا نشته:** زمونږ په شبکو کې کوم چمتو کوونکی وګورئ، یوازې په لومړۍ پاملرنه، د غاښونو او د زېږون ډاکټرانو پورې محدود نه.

**د نرس 24-ساعته مرستندویه لیکه:** د نرس څخه د ورځې 24 ساعته، په اونۍ کې 7 ورځې طبي لارښوونې او مالومات ترلاسه کړئ. (TTY 711) 833-731-2147

**د سترګو او غاښونو مرستې:** د لید او غاښونو مخنیوي کوونکې دودیزه پاملرنه ترلاسه کړئ، د وړتیا لرونکو غړو لپاره د کنټیکټ لینزونو لپاره د 100 ډالرو کرېډیټ په ګډون، پریمونه او نور څه غوره کړئ.

**د ځانګړې اړتیاو د پاملرنې مدیریت:** ټول هغه غړي چې ځانګړې اړتیاوې لري د پاملرنې د انفرادي پلان د مرستې لپاره د قضیې مدیر لري.

**د نسخه شویو درملو پوښښ:** د هغه درملو لپاره چې روغ پاتې کېدو لپاره ورته تاسو اړتیا لرئ او 15 ډالره په هر کوارټر کې د بې نسخې (OTC) توکو لپاره.

**اضافي شیان چې تاسو یې غواړئ**

**روغتیايي انعامونه:** د وړاندې شویو روغتیايي ازموینو او روغتیايي کړنو بشپړولو لپاره د ډالۍ کارتونه، لکه: د ماشومانو لپاره د سرپو ازموینې، د زکام تذریقونه، او د شکرې د ناروغۍ خدمتونه، لکه د سترګو کلنۍ معاینه او د هیموګلوبین A1c ازموینه.

**د میندو لپاره اضافي ملاتړ:** یو پروګرام چې په امیندوارۍ، زېږون او ستاسو د ماشوم په لومړیو څو میاشتو کې ستاسو ملاتړ وکړي. د سټرولرز، د موټر د سیټونو او نورو په لوړ روغتیاي انعامونه وګټئ.

**وړیا آنلاین سرچینې:** د غړو لپاره څو خواره، کارونه، استوګنځۍ، قانوني مشوره او نور هغه شیان ترلاسه کړئ چې تاسو ورته په ټولنه کې اړتیا لرئ.

**Community Care Resource Centers** (د ټولنې د پاملرنې د سرچینو مرکزونه) چیرته چې تاسو کولی شئ راشئ او د Wellpoint استازي سره مخامخ خبرې وکړئ څو د خپلو ګټو، ټولنیزو پروګرامونو او خدمتونو په اړه مالومات ترلاسه کړئ، او د خپلو پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړئ.